سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۱۵/۰۵/۱۴.

د پښتونولی حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوجیکي بنسټ

ځلورمه برخه

۱. د افغانانو د میلمه پالني او میلمستیا سپیڅلي لرغوني کانسپټ

میلمه، میلمه پانه، میلمستیا د پښتونولی په دودیزه قانون او د پښتونولی د ارزښتونو په سیستم کي لومړنی منل شوي اصل دی. افغانان پښتانه میلمه پالنه د خپل میلمه یو بنسټیز حق ګڼي. میلمه پالنه د پښتونولی په کانسپټونو او قانون کي د ټولو اصولو او نرخونو څخه مخکي د پښتنو یو مهم منل شوي انساني کولتوري درونداړزښت دی. له همدې امله میلمه پالنه پښتنو افغانانو ته له لرغونو زمانو څخه یو سپیڅلی دود ګرځیدلي دی. پښتانه د میلمه پالنې د قانون په چوکاټ کي د خپل میلمه یا د میلمنو څخه په مینه د زړه له کومي میلمه پالنه کوي. میلمه پالنه په ستړی مه شي، روغبړ، قدر، عزت، درناوي، خوراک او څښاک سره پرځای کیږي. پښتون که هر څومره نېستمن وي، بیا هم دی د خپل میلمه پالنه قدر او عزت کوي. په پښتو کي که څوک میلمه او دسترخوان ونلري، هغه په ولس کي سپک او بې اعتباره سړی بریښي. افغانان پښتانه پرته له دې چې د میلمه څخه د میلمه پالنې په بدل کي کومه مادي تمه ولري، د خپل میلمه میلمه پالنه کوي. پښتانه چې هر ډول خوراک او څښاک په خپل کور کي ولري، هغه خپل میلمه مخې ته ږدي. پښتانه خپله یواځینۍ وچه ډوډۍ یا ګډلي او شړمبي لومړي خپل میلمه ته ږدي. افغانان مسافر میلمه ته توده ډوډۍ ږدي او سړه پخپله خوري کوربه یا میلمه پال سړی ځان تاوانی او پوروړي کوي، دی د خپل میلمه د خوشحاله کولو مینه، هیله، میلمه پالنې په زړه کي لري. همدا لاملونه دي، چې میلمه پالنه په افغانانو پښتنو کي د ټولو ارزښتونو، نورمونو، نرخونو او اصولو په سرلیکه کي راځي. پښتنو کي داسي کور، ډیره او کلي نشته، چې په هغه کي د میلمه لپاره حجره یا میلمستون شتون ونلري. د پښتنو په کلیو کي د حجرې دړې شپه ورځ میلمه ته، د لارو مسافرو ته، ګاونډیو ته او د نورو کلیو کلیوالو خلکو پرمخ په ښه راغلاست ویلو سره خلاصي پریښي وي. پښتانه چې کله خپلو کورنو ته ننووځي، دوی لومړۍ ډیرې یا حجرې ته ورننوځي، ګوري چې حجره کي میلمه شته که نه، تر څو له میلمه سره ستړی مه شي ورکړي. په ډیرو او حجرو کي کلیوال د جمعې او دبندار لپاره سره راغونډیږي، حجرو کي خانان، مخور مشران، ملکان، ملایان او د اغیزې خاوندان د خپلو خلکو سره په قدر او عزت ناسته پاسته کوي. پښتنه ټولنه کي حجرې د خبرو اترو او اند جوړولو لپاره یو مهم ځای دی. کله نا کله مرکې او جرګې هم په حجرو کي را بلل کیږي. له یوې خوا پښتانه د خپل جغرافیایي موقیت له امله د اسیا د کولتورنو په څلور لارې کي پراته دي، له بلې خوا د دوی له سیمو څخه د وریښمینو لرغوني سوداګریزه لارې تیریږي. له همدې امله د اسیا په زرغون کمربند او د پښتنو په سیمو کي د مسافرو ګڼه ګوڼه، تګ را تګ ځښته ډیر دی. پښتنو ته دا مهمه نه ده، چې میلمه مسلمان او یا کافر دی، دی له کوم ځای څخه راغلي دی، تور یا سپین پوستکي لري، توري که شنې سترګې لري، چګه که تیټه پوزه لري یا میلمه ځواکمن مزی یا کمزورۍ دی، شتمن یا نېستمن دی. دوی دې ته نه ګوري، چې میلمه له ځانه سره څه راوړي او چیرې وري. پښتانه پرته له دې، چې د خپل میلمه څخه کومه متقابله مادي یا معنوي تمه ولري. دوی د خپل میلمه څخه د پښتونولي په اصولو کي میلمه پالنې کوي. افغانان له همدې امله په نړۍ کي د میلمه پالنې په دود کي ستر پیژندل شوي نوم او شهرت لري. پښتانه په خپل لومړني قانون میلمه پالنه کي عملاً ښیي، چې په دوی کي توکمي تعصب او تبعیض نشته، پښتانه د هر انسان بنسټیزو حقوقو او انساني کرامت ته په درنه سترګه ګوري.

کله چې یو انسان په خپل ژوند کي د مرګ له ګواښ سره مخامخ وي او دی بیا پښتنو ته پناه راوړي، پښتانه د پښتونولي د دود له مخې دغې سړی ته د خوندي ساتنې پناه ورکوي. د پښتنو او پښتونولي د پناه ورکولو دغه ډول د نن ورځ د کډوالی له نړیوال قانون سره سمون خوري. د میلمه ساتنه او بدرګه هم د کوربه له مسوولیتونو څخه ګڼل کیږي. پښتانه فکر کوي، چې پناه راوړونکي میلمه په هره بیه چې وي باید وساتل شي. کله چې یو پښتون د ګاونډي کلي سره قومي شخړه، بدي یا دښمني ولري او دی غواړي یوې بلې بې پرې سیمې ته له بدرګې سره ولاړ شي، کور به مجبور دی، چې د بدي دار میلمه سړی بدرګه وکړي او دی خپل مصئون ځای ته ورسوي. پښتنو کي دا یو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ستر شرم او پيغور دی، کله چې يو بديداره سړی بدرګه کيږي او په هغه باندې د دښمن له خوا وسله وال برید وشي. بدرګه کوونکي داسي احساس کوي، چې برید پر ده باندې هم شوي. داسي يو عمل يوې بلې نوی دښمني ته لاره خلاصوي.
په اصل کې ميلمه پالنه د پښتنو د قومونو ترمنځ وروروالي ټينګوي، د دوی ترمنځ خپلوي، پيوستون او د اتفاق ګرنټي رامنځته کوي.
نن د پښتنو د امن ستر کور د نابلل شويو بې ارزښته او پرهرجوونکي ظالمو ميلمونو ځخه ډګ دی. دغه نا بلل شوي بې مخه ميلمانا د پښتنو د ميلمه پالنې له دود ځخه ډيره ناوړه ناځوانمردانه استفادې کوي. په کابل او پيښور کې د دوی دغه غير انساني، زړه بوګنوونکي خونړي اعمال او کړنې د هر مسلمان افغان پښتون د ننګ او غيرت چيغه اسمان ته پورته کړي ده

۲. د پښتنو د پښتونولی د بدل کانسپټ

بدل د پښتونولی قانون دويم کانسپټ يا دويم ځپړکی دی. کله چې پښتنو کې يوه ستره بې عدالتي، ظلم او بد جرمي عمل تر سره شي، بدل اخيستل کيږي .بدل اکثراً په غلطه يعني د انتقام يا غچ اخيستلو په مانا ژباړل يا تفسير کيږي، د بدل مانا به په دې ډول ناسمه وي. بدل د يو په يو بدلولو مانا ورکوي. لومړی د ښځو بدل دی، چې د اسلامي نکاح ځخه ورسته د دوو کورنيو ترمنځ د دوو پيغلې نجلي او د دوو ځوانو سړيو ترمنځ بدل تر سره کيږي. دوهم بدل په سوداګريزو چارو کې هم تر سره کيږي. دريم د اجناسو يا د دوو هيوادو د کرنسۍ تبادلي ته هم بدل ويل کيږي
پښتونولي خپل ترمينالوجيک توری بدل داسي تعريف کړي، هر هغه ناوړه غير انساني بدعمل يا جرمي عمل چې تر سره شوي، يواځې هماغه نا حقه ناروا بدعمل يا ناوړه کړنه بايد بيرته پرځای شي. لکه د غاښ په بدل کې غاښ، د لاس په بدل کې لاس، د سترګې په بدل کې سترګه او د انسان په بدل کې انسان بيرته اخيستل کيږي. د پښتونولي قانون پر بنسټ کوم سړی چې ځوک وژني، دی بايد هم مړ شي. تر څو په ټولنه کې عدالت، انصاف، عامه نظم بيرته پر ځای شي. پښتونولي د انسان ژوند ته، انساني کرامت او د انسان مقام ته ځښت ډير ارزښت ورکوي. پښتونولي کې له بدو ځخه بدي او له بدي ځخه بدل رامنځ ته کيږي. پښتانه هغه بدي چې په روغه نه وي بدل شوي، چا ته نه ورپريږدي. پښتنو کې بدل اړين دی، بدل بايد واخيستل شي. پښتنه ټولنه کې که بدل نه وي، بد نه ورکيږي. هر ځومره موده چې تير شي بدي نه زړيږي. پښتون چې هر ځومره بې وسه او کمزوري وي، خپل بدل سل کاله ورسته هم اخلي. په هره بدي کې ننواتي نه تر سره کيږي. کله چې پښتني ټولنه کې يوه بې عدالتي يا جرمي بد عمل تر سره شي، د هغې بدل بايد واخيستل شي. متهم ته بې له دې چې د ده بده کړنه سهوآ يا قصدي عمل وه نه کتل کيږي. متهم ته خامخا سزا ورکول کيږي. مګر په هغه صورت کې چې متهم په خپله د پښتونولي د اصولو، دود، دستور او مراسمو له لارې د متضرر ځخه ښنه وغواړي او دی په خپله متضرر ته په ننواتي ورشي. د پيښمانتيا ځرګندولو او ښنې يا عذر غوښتل يا پور پرې کولو سره بدي هم ورکيږي.
د پښتو ژبې متل دی هغه خوند چې په ښنه کې شته،په انتقام او غچ اخيستلو کې نشته.
بدل په پښتونولي کې هغه مهال يو مشروع غبرګون ګڼل کيږي، چې د بدل اخيستلو کچه د تر سره شوي جرم ځخه ډيره نه وي. د بدل اخيستلو سره سم بايد د ترسره شوي جرمي عمل ځخه مخکنی حالت بيرته پرځای او رامنځته شي.
يو پښتون پوهيږي، چې کله دی يوځوک ووژني، ده خپل ځان او يا د خپلې کورنۍ يوبل غړي هم وژلي دی، ځکه پښتون خپل بدل اخلي. مجرم سړی يا وژل کيږي يا د خپل کلي ځخه د ګډي سره فراري کيږي.
د بدل اخيستلو يو بل مهم لامل دا دی، يو پښتون پوهيږي، چې دی مجبور دی خپله کورنۍ، خپله قبيله، خپل ولس د دښمن د پرلپسې ګوابنونو، بريدونو په وړاندې په غوندې توګه ساتنه او دفاع وکړي. يو پښتون ته د ده له کورنۍ، ډلې يا قبيلې ځخه د يو دفاع کوونکي سړی ضايعه کيدل يا وژل کيدل ډيره ستره مانا لري. له دې امله يو پښتون ته دا مهمه ده، چې بايد د بريدګر يا دښمن لوري ته هم يو د دفاع کوونکي سړی ورکم شي. تر څو د دوی ترمنځ د ځواک موازينه بيرته د پخوا پشان يو شانته برابره وساتل شي.
نن پښتانه د پرلپسې سياسي وژنو په لړۍ کې حيران پاتې دي، چې بدل د چا ځخه واخلي.
نا ځوانه، بې غيرته، بې ننګه قاتل ځکه نه پيژندل کيږي، چې خايف قاتل يا پټ دی يا د بې ګناه مقتول د جنازې په لمانځه کې د خپل په نامه دريږي. الله (ج) ته زمور بنکلي قومي مشران نوره په خپل امن کې وساتي، آمين.
د بدل اصلي مفهوم په اړه د عجب خان اپردي حماسي کيسه په بله برخه کې لوستلې شي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۳. د پښتنو د افغانیت د ننواتي کانسپټ

ننواتي د پښتي او پښتونولي دريم کانسپټ يا دريم قانون دی. ننواتي د پښتونولي د سوله ييزو کوډکسونو او ټولنيزو ارزښتونو يوه هر اړخيز ه ځانګړي متمدنه او له اسراره ډکه ښکارنده ده. ننواتي د ننوتلو څخه اخيستل شوي ده، ننواتي په ننواتي ورتللو ته ويل کيږي. ننواتي په عذر او زاړی د ښني غوښتلو لپاره ورتللو ته ويل کيږي. په ننواتي کي يو لوري ته د پناه ورکولو اراده شته او په بل لوري کي د پخلاينې علامي يا د رامنځ ته شوي ټولنيز کړکيچ د هواړی هيله او غوښتنه شته.

پښتنه ټولنه د نړی يوه با وجدانه او باضميره انساني لرغوني ټولنه ده، کله چې يو پښتون سهواً يا قصداً يو جرم تر سره کړي، په ده کي دومره ،جرئت، ميړانه او وجدان شته، چې دی د خپل جرم د منلو ترڅنګه د متضرر يا د خپل مدعي څخه معافي او ښنه غواړي. د ننواتي ښکارنده په سيمه ييزه او نړيواله کچه د افغاني کلتور او د مدني ټولني يوه ستره بيساري متمدنه انساني بيلګه پيژندل شوي ده.

ننواتي د چا څخه نه غوښتل کيږي. ننواتي يا ښنه غوښتل د يو لړ تشريفاتي مراسمو په لړ کي تر سره کيږي. ننواتي هغه مهال تر سره کيږي، کله چې د دوو کورنيو يا د دووقومونو ترمنځ بدي او شخړه رامنځ ته شي، بيا د روغې جوړې کولو لپاره هغې کورنۍ يا قوم چې خپله ګناه اوغلطي منلي وي، په ننواتي ورځي اوننواتي کوي. ننواتي په هغه شخړو او دعوې کي نه تر سر ه کيږي، کله چې د يوې ښځې بې عزتي په کې شوي وي. په بله وينا ننواتي د هر انسان سره چې ده کوم بې ننګه، بې غيرته او بې ناموسه عمل نه وي ترسره کړي، ننواتي کيداي شي. ننواتي د ننۍ متمدني نړۍ د نورمونو او ارزښتونو څخه لړ نوره مخکي ستر متمدنه انساني سوليزه ښکارنده ګڼل کيږي. ننواتي په پښتني ټولنه کي دبديو، د ښمنيو او د نورو وينو تويولو مخه نيسي او سوله وروروګلوی د قومونو او قبيلو ترمنځ تضمينوي.کله چې د ننواتي غږ وشي، بيا ننواتي خامخا کيږي. دا د پښتونولي اصول دي، چې يو ملامت يا ګرم انسان هڅول کيږي، متضرر ته په ننواتي ورشي. متضرر مجبور کيږی، چې د ضرررسوونکي مدعي يا د دښمن ننواتي ومني. ريښتنی او اصيل پښتون ننواتي کې د خپل د سر دښمن ته هم په خپل کور کي پناه او ځای ورکوي، دی د هغه خوندیتوب، امنيت د خپل دسر په بيه هم کوي.

په ننواتي کي مجرم يا ضرر رسوونکي بايد په خپله د متضرر يا مدعي کور ته د پښيمانتيا او د ښني غوښتلو لپاره ورځي. مجرم بايد په خپله يا د خپل کلي يا د قبيلي يو شمير مخورو مشرانو، سپين ګيرو سره په ريښتني توګه، په ډيره عاجزي، پيښماني او سرټيټوالي سره د متضرر کور ته رسي يا پرې په غاړه کي ورځي او متضرر ته قران مجيد ږدي. مجرم مجبور دی، د متضرر يا خفه شوي سړی په کور کي د ټولو په مخکي ښنه وغواړي. د جرم اصلي فاعل بايد د متضرر انسان په وړاندې ځان مجرم احساس کړي او د خپل ژوند او مرګ ټول واک او اختيار د راټولې شوي جرګې په مخکي خپل دښمن ته په لاس کي ورکړي. که مجرم يا اصلي فاعل د خلکو په مخکي داسي ښنه ونه غواړي، بيا د ده ښنه د متضرر د کورنۍ په وړاندې هيڅ اعتبار او مانا نه لري. يواځي له دی لاري پښتنه ټولنه کي د متضرر انسان حقوق، عزت، انساني حيثيت او وقار په بيرته پرځای کيداي شي. که داسي ونشي متضرر انسان د پښتونولي د اصولو پربنسټ خپل بدل ضرور اخلي.

په عنعنوي توګه ننواتي کي پسه يا پسونه هم د متضرر کورته وروستل کيږي. پسه نه يواځي د کړکيچ په هواړی کي کارول کيږي، بلکي د پناه غوښتلو، عضرر غوښتلو او د پښيمانتيا له ډول سره اړيکه لري.

ننواتي نه يواځي د قتل په قضيو او مسايلو کي مطرح کيږي، بلکي په نورو جرمي قضيو کي هم اعتبار لري. د پښتونولي قانون پر بنسټ ننواتي کوونکي سړی بايد ځان د مړ سړی په توګه وښيي او يا لکه چې يو سړی په محکمه کي پر يا ګرم پيژندل شوي وي. له همدې امله ننواتي او يا په ننواتي ورتلل هر انسان ته کوم اسانه کار هم نه دی.

همداراز د متضرر کورنۍ ته د ننواتي د مراسمو په تر سره کيدو او د پښتنو د دود، دستور پر بنسټ ډيره ګرانه ده، چې ننواتي ونه منل شي. پښتانه بيا داسي کورنۍ ته په ټولنه کي په درنه سترګه نه ګوري. دغه کورنۍ خپل ټول حقوقي رښتې يا حقونه په خپله قبيله او کورنۍ چاپيريال کي له لاسه ورکوي. پښتون د ننواتي منل کيدلو ته ځکه مجبور يږي، چې ميلمه يي کورته ورغلي دی. ځکه د ننواتي او ميلمه پالني کانسپټونه له يو بل سره تړاو لري.

د ننواتي يو بل مهم ارزښت په دې کي هم نغښتي دی، چې يو څوک د پښتون کور ته په ډيره عاجزي ميلمه ورغلي دی. کله چې څوک د چا ننواتي ونه مني، هغه غيرتمن،پټمن سړی نه ګنل کيږي، دی په ټولنه کي د ستر شرم سره مخامخ کيږي او په سپکه سترګه ورته کتل کيږي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۴ . د پښتونولۍ ننګ، پښتني غيرت، ناموس، شرم او د حيا کانسپټ

پښتني ننګ او افغاني غيرت د پښتونولي ځلورم قانون دی. يو غيرتمن او ننګيالي سړی د پښتوتوب نړۍ يو ايډيالي انځور انځوري. غيرتمن، پتمن سړی تل د ننګ او عزت په لټه کي اوسي. غيرتمن سړی د پښتونتوب او ميرنتوب ټولي غوښتني او د تصورکيدونکي ارزښتونه او نورمونه په خپل ځان کي لري. پښتني ننګ د پښتون يا د پښتون د کورنۍ او د پښتني قبيلي ځخه عبارت دی.

ننګ د يو سړی د انساني سپيڅلي او عالي احساساتو د ويار يوه ځانګړي ټولګه ده. ننګيالي پښتون بايد لومړۍ په خپل قبيلوي ټبر يا ستړه باندي ټينګ باور ولري، تر څو دی له يوه لوري پر خپل قبيلوي جوړښت او خپل توکمي يووالي باندي اغيزه ولرلي شي، له بل لوري همهاله دی ځان د نورو ځخه د ننګ په چارو کي بيل وښولي شي. ننګ، غيرت او عزت په پښتنو کي دوي خواوي لري. له يوې خوا يو پښتون بايد په جرئت سره د توري له لارۍ خپل جګړيزه تياري وښيي، له بلي خوا دی بايد د عقل او منطق له لارۍ د خپلي ټولني مسوولیت په غاړه واخلي. ځکه سيلم عقل پر هر ډول انساني احساساتو باندي برلاسي دی. ځوک چې ننګ کوي، هغه يو ننګيالي سړی دی. ځوک چې له بې ننګي سره ژوند کوي، دی له خپل ژوند سره جفا کوي.

د پښتونولي په کانسپټونو کي ننګ، غيرت او ناموس خورا مهم رول لوبوي. ننګ د سړيتوب عزت دی، ننګ د زړورتيا او د توري له لارۍ ترلاسه او پر ځای کيږي. د پښتون موخه اصلاً دا نه ده، چې توره په لاس کي ولري، بلکي دی د توری له لارۍ د خپل ننګ، غيرت او ناموس ساتنه کوي. يو پښتون د ننګ له لارۍ د يو توريالي سړی نوم ګټلي شي. د يو ننګيالي ټول کړه وړه او چارې بايد د خپل ټول قام په ګټه وي، نه دا چې د ده کړه وړه د خپل شخصي چارو او انفرادي ګټو لپاره وي. د بيلګې په ډول په خپل پلارنۍ هيواد او مورنۍ خاورې باندي ننګ کول، په خپل افغانيت او اسلاميت باندي ننګ کول، د خپلواکۍ او د جهاد په سپيڅلي جګړه کي برخه اخيستلو ته ننګ وايي. کله چې يو پښتون سړی يوه مهمه موخه ترلاسه کړي، پښتانه وايي، چې توره يې وکړه. د ناموس توری د ښځينه عزت لپاره که هغه مور، خور او لور وي استعماليږي. همداسي د خپلي کورنۍ ځخه ساتنه، د خپل پټي او ځمکي ځخه دفاع او همداسي د خپل وطن ځخه دفاع او ساتنې ته ناموس ويل کيږي. پښتنه ټولنه کي چې ځوک ټولګټي ملي مثبت کړه وړو تر سره کړي، هغه سړی د غيرتمن او ننګيالی سړی په نامه يادیږي.

پښتونولي کي د پښتون د کورنۍ ټولي ښځينه غړي مور، خور، لور او خپل پلارني هيواد ملي ګټو ته د ناموس په ځير کتل کيږي. د پښتو ژبې ادبيات او فولکلوري کيسي د ننګ، غيرت او ناموس ځخه ډک کيسي دي.

غيرت په خپل ځان ډادمنتوب ته ويل کيږي، غيرت خپلواکۍ ته ويل کيږي. غيرت په خپل ځان باور، په خپل ځان خبرتيا، د خپل ځان پيژندنه، سرلوړيتوب، جرئت، ويار،سيله رحم، هوښياري اوبلاخره د خپل ويښ پښتني احساس ټولګي ته ويل کيږي. غيرت نه يواځي د يو سړی د کرکټر مانا نه افاده کوي، بلکي غيرتمن سړی هغه سړی دی چې دغه ځانګړتياوي په خپل ځان کي ولري. غيرتمن سړی يو جنټرمين او خپلواک سړی دی.

ښايي د خپلواکۍ سره دغيرتمنو، سرکښو پښتنو افغانانو بې کچه مينه يو بل خټ د لر او بر افغانانو د بيا يووالي په لاره کي وي.

د افغانيت د اصولو منځ زړي او په پښتونولی کي ترټولو مهم ټوکي ننګ او غيرت دی. کله چې يو افغان د ميراني، سرښندنې، فداکاري، شجاعت، زړورتيا، جرئت، درنښت او يا د پښتونولۍ له نورو نورمونو، ارزښتنو ځخه سرغړونه وکړي، دی ځان ته، خپلي قبيلي ته شرم، بې عزتي او بې ننګي رامنځ ته کوي. يو ننګيالی پښتون تل خپلي قبيلي ته ويار، شان، شوکت ښه نوم راوړي. تر هغې چې دی په بې ننګه، بې عزته ، بې شرمه او نورو ته د غلامي سرټيټوالي سپک هلک ژوند وکړي.

په پښتنوکي دبې ننګه، بې غيرته، بې شرمه، بې حيا او بې ناموسه ښکنځل تر ټولو سخت فکر کيدونکي ښکنځلو ځخه ګڼل کيږي. کله چې يو پښتون په دي. ونتوانيږي، چې خپل ننګ او غيرت د توهين کوونکي يا تحقيرکوونکي سړی د وژلو له لارۍ بيرته پرځای نشي کړي. ښکنځلي سپکي سپوري دی په ټولنه کي دومره سخت راټيتوي، چې همدغه سړی خپل ټولنيز موقف، پرستيژ، سړيتوبپه خپله ټولنه اوقبيله کي له لاسه ورکوي.

شرم او بې شرمي هم د ننګ کانسپټ يوه مهمه برخه ده. شرم د بې آبې په مانا هم ژباړل کيږي .شرم د ښځي له کړو وړو سره هم اړيکي لري، شرم د نارينوو کنترول پر ښځينه باندي وی، ښځي د ټولني نيمايي برخه جوړوي. په عمومي توګه پښتنه ټولنه کي د پيغلي نجلي د جنسي غريضواو فعاليتونو ته په کمه سترګه کتل کيږي. پښتانه فکر کوي، چې ښايي پيغلي نجلي د نارينوو د جنسي غريضو لپاره يو اسانه ښکار وي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پښتانه فکر کوي، ناموس بايد وساتل شي. په همدې وجه دوی فکر کوي او مجبوريږي، چې ښځې په خپل کور کې تر خپل کنټرول لاندې وساتي. پښتانه دومره ستره ويره د ښځو د نامشروع اړيکو او کړو وړو څخه نه لري، لکه دوی په خپل کلي او سيمه کې د خلکو او تربور له خبرو او پيغورنو څخه چې ويره لری. پښتانه فکر کوي، که ښځه، خور او مور يې په ستر يا په مخ پټولو کې پټمن ژوند وکړي، د کليوالو او د توربور د پيغورونه خبرې به هيڅ نه وي.
پښتانه کوچيان او ډيرې نور دوديزه پښتانه ښځو سره دې ډول چلند ته د نارينوو د کمزورتيا په سترګه ګوري. پښتانه کوچيان وايي، دوی د خپلو ښځو ايسارولو ته هيڅ اړتيا نه لري. کوچيان زياتوي، که مور د ښځو سره داسې چلند وکړو، بيا مور پوره سړي نه يو او دا د نارينه کمزوتيا او ناتوانايي ده. چې ښځه په کورکې ايساره وي ناموس د کورنۍ هرې ښځينه غړي ته منسوب کيږي. افغانانو ته ناموس په خپل وسعيي مانا کې خپل کور، خپل ټبر، خپله قبيلې،پښتني ټولنه، هيواد، مورني خاوري او خپل دين ساتنه ته هم د ناموس مانا وروکوي .ځوک، چې دغې ارزښتونو ته ارزښت نه ورکوي هغه بې ناموسه دی.
د ننګ کانسپټ د پښتون څخه غواړي، چې دی بايد تل د ټولنې په چوپړ او ساتنه کې واوسي. دغه ساتنه او دنده په ځانګړي ډول د هغې له خپلې او قبيلو څخه عبارت ده، دا هغه چارې دي، چې يو پښتون د هغې ساتنه، دفاع او مسوولیت په غاړه لري. يو اصيل او ريښتني پښتون ته ور په غاړه چارې او مسوولیتونه په لاندې ډول دي.
۱. د خپلې کورنۍ د ښځينه غړوڅخه، د خپل قام د ښځينه غړو څخه، ان هغه ښځينه چې دی يو ډول نه ډول له دوی سره پيژند ګلوي او خپلوي لري.
۲.د خپلې سيمې، د خپلې قبيلې سيمه، د خپل ولس، د خپل وطن او د خپل پلارنۍ هيواد د ملي او اسلامي ارزښتونو څخه دفاع ده.
۳ د بې وسه ،کمزوري، بې وزلې خلکو، کوم خلک چې ده ته په ننواتي وراغلي او دوی له ده څخه فيزيکي ساتنه غواړي.
۴ د خپلو ميلمنو څخه ساتنه، کله چې دی مجبور شي د بدې داره ميلمه څخه د تللو په مهال بدرګه وکړي.
د يو پښتون څخه د ننګ کانسپټ اصلي غوښتنې خپل ځان ځار کولو يا قربانولو په مانا دي او د تورې کانسپټ موخې د يو پښتون د خپلو ليوالتياوو او انترس څخه د دفاع مسلې رانغاړي.
په پښتني تفکر کې يو پښتون سړی تل په يو تربګنيزه، له دښمنيو او کړکيچونو څخه ډک چېرپال کې ژوند کوي. د دښمنيو دغه چېرپال له ده څخه هره شيبه د ژوند ټولې زيرمې اخلي. لکه د ده کورنۍ، ځمکه او ناموس. له همدې امله يو پښتون مجبور کيږي، چې د خپل موقف او مسوولیتونو څخه په ټولنه کې ساتنه او دفاع وکړي.
دغه خورا مهم مسايل او مسوولیتونه يو پښتون د يو قهرجن او جګړه ييز حالت ته ورهڅوي، دی په دې باوري کيږي، تر څو دی د ټولو شيانو څخه دفاع وکړي. په دې ډول د پښتونولي د تورې په کانسپټ کې د يو پښتون نړۍ ليدانځور شوي دی. له همدې امله يو پښتون خپل پور يا بدل اخيستلو ته اړ کيږي. د بدل اخيستلو پرنسيب دا دی، چې د سترګې په بدل کې سترګه، دغاښ په بدل کې غاښ، د ژوند په بدل کې ژوند اخيستل کيږي.
يو اصيل او مسوول پښتون ژوند له ډيرو سختيو او د ګوابنمنو ګوابنونو څخه ډک ژوند دی، دی بيا هم هڅه کوي،چې په خپل ژوند کې يو ننګيالی انسان واوسي، سربيره پردې دی ځان د يو ننګيالي په څير د کمزورو بې وسو انسانانو لاس نيوي او ساتني ته اړ بولي. پښتنه تولنه کې يو ننګيالی سړی ځان د نورو لپاره يو مخګښ يا د يو سرمشق سړی بيلګه ګرځوي. د يو ننګيالی پښتون د کړو وړو موډل د پښتني د ننګ په کانسپټ کې راڅرخي. د يو ننګيالی پښتون حيثيت، پرستيژ، شخصيت او د مورالي ځواک دی دي ته هڅوي، چې د مرسته غوښتونکو، د ساتنې غوښتونکي او د مظلومو خلکو څخه ننګه او ساتنه وکړي. ننګيالی يو ډير هراوخيز کولتوري مفهم دی، چې د ناموس سره مستقيماً تړو لري.
افغانستان کې يو کرسماتيک ملي مشر شخصيت بايد تر هرڅه دمخه لومړۍ دی د واک يا قدرت او د ټولنيز ايډيالي مسوولیتونو او چارو ترمنځ اړيکې په مناسبه توګه برابر وساتي. پښتنه ټولنه کې چې څوک د پښتني ننګ، غيرت او د پښتونولۍ حقوقي کودکسونه او پښتني تصوراتو پر خپل ځان باندې پلې نه کړي او په خپل ځان کې عملاً نه ښيي، دی هيڅ کله پښتنو ته د قوم يو ايډيالي غيرتمن مخکښ مشر نشي کيدي. د پښتونولۍ د ننګ او غيرت ارزښتونه يو پښتون افغان مشر ته ځښت ډير اړين دي، تر څو دی په ولس کې د يو مشر په توګه ومنل شي .افغان ملت کې ستر مخکښ افغان او کرسماتيک ملي شخصيت خوشحال خان خټک ليکي:
د افغان په ننګ مي وترله توره

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ننګیالی د زمانی خوشحال خټک یم

۵. د پښتونولی د توري او عقل کانسپټ

پښتنو ته پښتونولي په ټولو کانسپټونو کې او د پښتنو په دودیزه قانون کې څه شي چې ډیره ستره مانا او ارزښت لري، هغه ننګ او د توري کانسپټونه دي. د ننګ کانسپټ د یو اصیل پښتون څخه غواړي، چې دی باید د خپلې ټولنې او ولس په چوپړ کې ودریږي. یو ننګیالی پښتون ته تل ملي مسوولیتونه او ملي چاري ور په غاړه وي، ځکه دی په دې باور دی، چې دغه ملي چاري د ټولنې، د قبیلې او د پښتون افغان ولس د ساتنې او دفاع لپاره ځانګړي شوي دي. پښتانه یواځې په توره باندې مین خلک ندي دوی فکر کوي، چې توره د پښتنې غیرت د ساتنې لپار کارول کیږي.

تاریخ او تجربو دا ثابته کړي ده، هغه پښتانه چې پښتنې غیرت او افغاني ننګ نه درلود، دوی که پوهیدلي یا نه دي پوهیدلي، دوی په ډیره اسانه او ډیر ژر د پښتون ضد قوتونو او د یرغلګرو تر اغیزې لاندې راغلي دي.

په پښتنو کې توره میړنتوب، سربندنې، زړورتیا او اتلولي ته ویل کیږي. توره یو پښتون ته د توریالیتوب، میړنتوب ستر احساس ورپه برخه کوي. پښتانه د خپلواکۍ په سپیڅلي جګړه کې مرګ ته د عزت په سترګه ګوري. د پښتنې توري او د پښتنې ننګیالیتوب په اړه د پښتنو په حماسي ادبیاتو کې ډیرې لیکنې شوي دي.

توره د پښتنو د غیرت، عزت او جنګیالیتوب یوه ستره نښه او نښانه ده. د یو پښتون توره په هغه حالت کې رایستل کیږي، کله چې د ده خپلواکی، غیرت او د ننګ مسله یا د دوی وطن خاوره دیرغلګر ود برید سره مخامخ شي، یا د افغانانو د ملي نوامیسو، د ملي ګټو، د دین دفاع مسلي او خبرې مطرح شي. افغانان پښتانه توري هغه مهال هم کاروي، کله چې د دوی ناموس،کورنی، شخصي ملکیت، حق او مال له ګوابښ سره مخامخ شي او یا په سپیڅلي جګړه یا جهاد کې برخه اخیستل فرض وګرځي:

یو اصیل پښتون د ظالم د ظلم په وړاندې د مظلوم د دفاع لپاره هم را پورته کیږي. توریالی هغه سړی دی، چې د توري ځانګړتیاوې په خپل ځان کې ولري. توریالی سړی لومړی د خپل عزت، پت او انفرادي خپلواکۍ لپاره جګړه او مبارزه کوي، دی بیا د خپلې کورنۍ او قبیلې لپاره د اتلولي چاري ترسره کوي. دی ځان ته د دې لارې د توریالي سړی نوم راخپلوي. د دې چارو د تر سره کولو څخه ورسته دی په خپل ټبر او قبیلوي ټولنه کې مساوي حقوق ترلاسه کولي شي، دی بیا د خپل ځان په ډاډمنتوب باندې باوري کیدي شي. دی بیا هیڅ وخت د یو بهرني د بښمن د مادي او معنوي ځواک، د استعماري ارادې تر اغیز لاندې نشي راتلي او د افغان سترولس په وړاندې استعمالیدي هم نه شي .

په دې لاندې بیلګه کې د یو توریالي او ننګیالي افغان د ننګ او غیرت تاریخي کیسه لوستلي شي .

د برتانوی هند په وخت کې دولتي واک ته د غازي امان الله خان د بیرته راستنیدو په اړه د ملي خپلواکۍ اتل غازی ببرک خان ځدرانِ زامنو د افغانستان شاهي دولت سره اختلاف پیدا شو. د ببرک خان ځدرانِ زامن په لویه پکتیا کې د غازی امان الله خان د بیرته راوستلو په تور د افغانستان پوځ د یو پوځي برید په ترڅ کې له خپل کور او کلي څخه برتانوي هند ته فراري کړل شول. کله چې پاکستان د برتانوي هند څخه وزیریږید، دوی هملته اوسیدل. د پاکستان د هغه وخت صدراعظم لیاقت علی یوې غونډې ته سیداکبر خان ببرک زی ځدرانِ د افغانستان د شاهي دولت د یو مخالف شخص په ځیر وربللی وو. په غونده کې د خبرو پر محل کله چې افغان ضد لیاقت علی د ډیورنډ کرښې د کرکیچ په اړه د افغانستان ملي دولت او د افغان ولس د ناموس بي عزتي وکړه او سپکی سپوری وویلي. د افغان په ننګ د سید اکبر خان پښتني ملي غرو راوپاریدد پاکستان صدراعظم لیاقت علی سمدستي د تمانچې په ډزو په خوله وویشت او ځای په ځای په قتل ورساوو. سیداکبرخان هم هملته د پیښې په مهال ووژلي شو. که څه هم د افغانستان د هغې وخت شاهي دولت د سید اکبر خان کور او کلي په عسکري توپونو ویشتلي او وران کړي وو، د ببرک خان کورنۍ یې په ډیر بد حالت کې وزیرستان او برتانوی هند ته فراري کړلي شوي وه. د ببرک خان ځدرانِ زامن هیڅ کله په برتانوي هند او نوي پاکستان کې د افغانستان د دولت او د افغان ملت په ضد ونه دریدل او نه دوی د انګریزي امپراتورۍ تر استعماري ارادې لاندې راغلل او نه دوی د پنجاب د تور سیاست له خوا د افغان ولس پر ضد استعمال کړلي شول.

سل افسوس دې د نن ورځې په ځینو پښتانه شه، چې په دوی کې ولې د پنجاب پوځ د بریدنو په وړاندې د خپلې سپیڅلي خاورې پښتني احساس نشته، ښځې، ماشومان په وینو کې لمبي، د پښتون په کور کې ژړا او چیغه ګډه، ځنګلونه، کورونه ښوونځي سوځي، ټول بې اتفاقه پښتانه ورته ګوري. خیر په هر صورت

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د يو ننګيالی پښتون د توري په مقابل کي د پښتونولۍ د ننګ کانسپټ هم راولږي. د ننګ کانسپټ يو پښتون تر يوې کچې پوري د ځانپالنې، ځانځاني، خپلسري او يا دی يواځي د خپلو غوښتنو، انترس څخه منع کوي. د کړکيچ په حالت کي د يو پښتون څخه د ننګ په کانسپټ غوښتنه کيږي، چې په خپل سر کړه وړه ترسره نه کړي او د يو سړی غبرګون دومره اغيزمن نه پريوځي. دی بايد په کړکيچن يا اصطراري حالت کي د توري د کانسپټ تر څنګ د ننګ کانسپټ څخه هم کار واخلي. يو ننګيالی پښتون ځلمي پوهيږي، چې د يوه کلي يا يوې قبيلې غوښتنې يا انترس د يو کس له غوښتنو او ګټو څخه ډيرې غوره او لوړې دي.
دغه ټولنيز اخلاق ، نورمونه او ارزښتونه د پښتنو د ژوند، د پښتنو د ژوندي پاتي کيدلو په نړۍ کي خورا مهم اړين توکي دي.
د ننګ دوه اړخونه عقل او توره د ژوند يا د عمر په اوږدو کي له دوو برخو سره تړلي دي. د يو ځوان سړی څخه په خپل سر د توري رايستلو يا جګولو تمه کيږي. کيدای شي چې دی يوسرتمبه او احساساتي سړی واوسي. په وړه خبرو سمدستۍ توپک ته بلوټ ورتير کړي .
د پښتنو په سيموکي د يو ځوان سړی توره د کليوالي او پښتني دودونو، نرخونو له لارې د سپين ګيرو، قومي مشرانود تجربو، د عقل او منطق خاوندانو د صبر او د زغم له لارې کنټرول کيږي .
په همدې ترتيب سره په پښتنه ټولنه کي ځوانان خپلو سپين ګيريو او قومي مشرانو ته د درنښت د سرټيټولو په روحيه روزل کيږي.
د پښتونولي قانون توره په هغه قضيو کي هم مني، کله چې د يوې ښځې، خور، مور د ننګ او عزت خبره رامنځ ته شي. پښتنو ته توره پيښه يواځي هغه مهال په سپينه پيښه بدليدي شي، چې ضرر رسوونکي يا مدعي ووژل شي، دوی فکر کوي، چې د هغه د مرګ څخه پرته بله لار نشته .
د پښتونولۍ د توري ايډيالي کانسپټ د يو پښتون څخه غواړي، چې په قهرجنه او جګړييزه توګه له خپل ځان، د خپلو ګټو او د خپلو انترس څخه دفاع وکړه.
د پښتونولي د توريۍ ايډيال يا کانسپټ د يو پښتون څخه غواړي، چې د خپل ځان دفاع او د خپل انترس د فاع لپاره د سختو جګړييزو اسبابو څخه کارواخلي .کيداي شي نن دغه طرزالعمل يا وسله وال غبرګون د لويديځوالو په سترګو کي خام او يا يو نا متمدن عمل وي. خو دغه ډول غبرګونونه د يو پښتون د ژوند په نړۍ کي د ژوندي پاتيکيدو په بهير کي ځښت ډير اړين دي.
يو ريښتني پښتون ته د توري د کارولو په حساسه مرحله کي بيا د پښتونولي د ننګ کانسپټ را ولاړيږي او د پښتون څخه يوه اندازه نرمښت، زغم او د ميرانه غوښتنه کوي. د ننګ کانسپټ د يو ځلمي پښتون پام له ځانخاني او يواځي د خپلو ګټو تر لاسه کولو لپاره هر څه ته له لاس اچولو را ګرځوي او د بې ځايه زور زياتي څخه په شا کوي. له همدې امله د ننګ کانسپټ د توري له کانسپټ سره د سيالي لوبه کوي. په دغه کړکيچن او خورا هيجاني جګړه ييز حالت کي د ننګ کانسپټ غوښتنې په ډاډمنه ټوګه کولاي شي، د يو شخص غبرګونيزه عمل په ترخ کي مقابل لوري ته بې کچه زيانونه او تاوانونه وروا نه اړوي.
په بله وينا د انسان د فکر په دغه لوبه کي د ننګ کانسپټ د توريۍ کانسپټ د غوښتنو په وړاندې انټاګونيست يا په لوبه کي د مقابل لوري لوبغاړي ګرځي. د ننګ کانسپټ د ټول ولس د خيرښيګڼي، انترس يا د ټولنې له هوساينه او يا د ټولنې د هر غړي د عزت غوندېتوب سره تړو لري. د توريۍ کانسپټ يواځي د ځان د انترس لپاره کارول کيږي. کله چې يو ځوان پښتون افغان عقلاً، شعوراً په متوازي توګه د توري او د ننګ له کانسپټ څخه کار واخلي، دی يو ننګيالی پښتون سړی شميرل کيدي شي .
په ټوليزه ټوګه د پښتونولي لرغوني نورمونه او ارزښتونه د يو پښتون په ورځيني ژوند، کي د هغه د غوښتنو، انترس، د پښتنې ټولنې غوښتنې او حقوقي اړيکو په را کړه ورکړه کي خورا مهمه رول لوبوي.

د څلورمې برخې پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ